Share

Twitter

د افغانستان اسلامي جمهوریت
د مطبوعاتو ریاست
د جمهور رئیس دویاند دفتر

جمهوری اسلامی افغانستان
ریاست مطبوعات
دفتر سخنگوی رئیس جمهور

www.president.gov.af

# د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رئیس حامد کرزي
# د مطبوعاتي کنفرانس بشپړ متن
# د ۱۳۹۱ کال د تلې ۱۳مه

بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان محترمو مطبوعاتو، خویندو او ورونو

السلام علیکم، خدای مو راوله!

لکه څنګه چې خبر یاست په دې تیرو هفتو کې مې څه مصروفیتونه، تحولات او ځینې سفرونه درلودل، چې په هغو کې تر ټولو مهم سفر ملل متحد ته و، البته اصلاً قرار نه و چې زه دا سفر وکړم، نیت مې نه درلوده چې سږ کال د ملل متحد عمومي غونډې ته لاړ شم، خو د انګلستان د بناغلي صدراعظم کامرون په بلنه د افغانستان، پاکستان او انګلستان تر منځ د سه جانبه مذاکرې لپاره چې موږ ته یوه مهمه مذاکره ده. د همسایه ګانو سره رابطه او د همسایه ګانو سره ښې اړیکې او د مشکلاتو لرې کول زموږ د خارجي سیاست مهمترین او اولین هدف او اساس دی، په همدې منظور نیویارک ته لاړم او کله چې هلته لاړو، دا مذاکره مو وکړه.

اول به راشم هغه مجلس ته، چې موږ، پاکستان او انګلستان سره درلود، له پاکستان څخه د پاکستان ښاغلی جمهور رئیس آصف علی زرداري موجود و او د انګلستان ښاغلی صدراعظم ډیوید کامرون موجود و او د دواړو هیوادونو خارجه وزیران ، سیاسي معینان هم موجود وو، موږ پر هغه کاغذ بحث وکړ، چې ددریو واړو هیوادونو له لوري کتل شوی او بحث پرې شوی و، په دې کې د یوې تګلارې وینا شوې وه چې هغه تګلاره به تر ۲۰۱۴ کال پورې او د ۲۰۱۴ م کال نه هغه خوا د افغانستان او پاکستان رابطه او د افغانستان او د نړولې بین المللي د رابطې په اړه چې خارجي قواوې وځي، د افغانستان څخه به پر دې بحث کیږي. په دې ناسته کې پر لنډ مهالو اقداماتو خبرې وشوې، پر میان مهاله او اوږد مهاله اقداماتو خبرې وشوې. په دې کې مهمه خبره دا وه چې اول تر هر څه د مخه څنګه دواړه هیوادونه د تروریزم او افراطیت په هلکه یو له بله سره همکاري وکړي، چې دا د افغانستان پخوانی موقف دی او اوله او لومړنی غوښتنه ده، کله چې دا اهداف تر سره شول، بیا به تجارت، اقتصاد او په تګ راتګ کې د رابطې د لا ښه والي لپاره او د یوې داسې رابطې د ایجاد په هکله چې د دواړو هیوادونو تر منځ د ستراتیژیکې رابطې معنا ولري. خبرې وشوې.

د افغانستان له نظره موږ پرې خوشحاله یو چې له پاکستان سره زموږ ستراتیژیکه رابطه وشي، موږ یې غوښتونکي یو، د ګاونډیانو تر منځ باید ستراتیژیکه رابطه وي، خو زموږ او پاکستان ترمنځ ستراتیژیکه رابطه ځینې شرایط لري، پیش شرطونه لري، هغه پیش شرطونه دا دي چې اول دې زموږ د همسایاګانو له خوا څخه افغانستان ته د تروریزم او انتحاریانو راتګ، د مداخلاتو ادامه او نور هغه ټول عوامل چې په افغانستان کې د خلکو د وژنو، قتل او د بې ثباتې او د ارامښت نه پریښودلو باعث کیږي، مخنیوی وشي. کله چې دا تر سره شول او پر دې ډاډمن شو چې زموږ همسایه پاکستان چې موږ ورسره په تمامه معنا ښه رابطه غواړو، له افغانستان سره دا شرایط پر ځای کړل، تروریزم او افراطیت ورک شو، افغانستانه ته د افراطیت پالنه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او روزنه او د هغه لیږدونه بنده شوه او نور هغه شرایط چې د داسې رابطې لپاره باید اساس وي پوره شول، نو بیا د افغانستان خلک او موږ په تمامه معنا حاضر یو او غواړو چې پدې هکله کار وکړو.

په همدې ترتیب، په همدغو مجالسو کې مو پر اقتصادي، فرهنګي او اجتماعي روابطو خبرې وکړې، بیا هم ټول په یو ځای کې راځي، دریږي او بندیږي، یعنې لاره یې بنده غونډې ښکاري چې تر هغه ورځې پورې دا افراطیت او تروریزم او د افغانستان پر خلاف فعالیت بند نه شي او په دې هکله به موږ خپلو مذاکراتو ته ادامه ورکوو او افغانستان به خپل شرایط وار په وار مخ ته کوي او په دې اړه به د انګلستان او پاکستان له حکومتونو سره کار کوو، د سولې پروسه چې بیا یې هم معنا یې یوه ده، کله چې افرطیت او تروریزم بند شو، افغانستان ته د مرګ ژوبلې د رالیږلو سلسله بنده شوه، نو طبیعي ده چې هلته د سولې پروسه او اقدامات کامیابیږي.

په همدې ترتیب مې په امریکا کې د مایکروسافټ له مشر ښاغلي بیل ګیټس سره خبرې وکړې، او په افغانستان کې د پولیو د مرض د ورک کولو لپاره مو د هغوی د کوښښونو ستاینه وکړه او د هغو اقداماتو په لړ کې مو سره فیصلې وکړې چې موږ یې په دې هکله وکړو او په یو کنفرانس کې چې د پولیو په باب و، هلته مې هم ګډون وکړ او د معارف په باب کنفرانس کې مې هم ګډون وکړ، نور ډېر ملاقاتونه مې وکړل، له ښاغلي آغا خان او براهیمي سره مې ملاقات تر سره کړ، د پولینډ له جمهور رئیس سره مې وکتل، د پولینډ او زموږ تر منځ د خاصو اړیکو په باب او دغه راز پر نظامي تربیت او تجهیزاتو خبرې وشوې، همدا رنګه مې د امریکې له خارجه وزیرې محترمې مېرمن کلنټن سره یو مفصل مجلس درلود او په دې مجلس کې مو په مفصله توګه پر ټولو هغو مسایلو او ابعادو خبرې وکړې چې زموږ تر منځ دي، نور مسایل به دلته پرېږدو، خو ما خاصتاً په دې مجلس کې له محترم خارجه وزیر سره پر هغه رواني جنګ خبرې ورکړې چې د غربي او امریکایي مطبوعاتو له خوا له افغانستان سره روان دي او د دې مجلس د مخه مې هفته د مخه د امریکا له ښاغلي جمهور رییس بارک اوباما سره په دې مسأله کې د ویډیو کنفرانس له لارې مفصلې خبرې درلودې، او ورته مې ویل چې یو مملکت چې تاسې یې خپل متحد ګڼئ او غواړئ چې دوست در سره و اوسي او ستراتیژیک همکار درسره واوسي، څرنګه امکان لري چې په هغه مملکت، ولس، ملت او خاورې پسې ستاسې مطبوعات په رواني جنګ اخته وي او تبلیغات پسې کوي، که دا تبلیغات د دې لپاره وي چې افغانستان ضعیفه او کمزوری پاتې شي او خلک یې اعتماد په نفس ونلري، نو دا د متحدو تر منځ کار نه دی او که د دې لپاره وي چې هغه قراردادنو چې لا موږ په مخ کې لرو، چې امنیتي قرارداد دی چې په اساس به یې د افغانستان او امریکې تر منځ په افغانستان کې د امریکې د اډو د تعداد، د عسکرو د پاتې کېدو او د عسکرو د مصوونیت خبره کیږي، نو دا مسأله زموږ سره د رواني جنګ په اساس او زموږ د موقف د تضعیف له لارې نه شي تر لاسه کېدلای، بلکې افغانستان به لکه په ستراتیژیک قرارداد کې چې خپل موقف درلود او خپله هڅه یې درلوده، بیا به هم افغانستان خپل منفعت ته ګوري، چېرې چې د افغانستان منفعت و، چېرته چې د افغانستان ګټه وه، هغه ګټه به موږ هرو مرو په هغه قرارداد کې چې له امریکې سره وي، ایران سره وي، پاکستان سره وي، هند سره وي او یا که د بل هر مملکت سره وي، افغانستان به هغه منفعت حتماً تر لاسه کوي او کله چې مطمین شو، بیا به دا قرارداد امضا کیږي، نو د افغانستان پر خلاف د غربي مطبوعاتو دا رواني جنګ چې په ۲۰۱۴ کې به خارجي عسکر وځي او افغانستان به دربه دره وي، یا دا چې افغانستان به له ۲۰۱۴ کال وروسته مفلس او در به دره وي، یا دا چې له ۲۰۱۴ کال وروسته به په افغانستان کې خانه جنګي وي، یا به دا وي یا به هغه وي، طالبان راځي، دا زما له نظره او زه یقیني یم چې دا د منفعتو د زیاتولو لپاره او دهغه اهدافو د رسیدو لپاره چې د دوو مملکتونو د منفعتو تر منځ کیږي، یو رواني جنګ دی او پدې کې باید موږ هوښیار اوسېږو او اګاه اوسېږو او جانب مقابل باید په دې پوه کړو چې په دې بچه ترسانیو افغانستان خپل منافع نشي هېرولی، دا د پنځو زرو کلونو تاریخ درلودنکی وطن دی او زموږ د وطن په اصطلاح سخت نر وطن دی او دی به خپله ګټه سنجوي او په خپله ګټه به کار کوي او مخ ته به ځي، خو دلته خبره زما دومره په غربي مطبوعاتو کې نه ده، موږ اوس دوی پېژنو، پخوا د کار په شروع کې پرې نه پوهېدلو، موږ نه نیویارک ټایمز پېژانده چې له کومه ځایه راځي او څه کوي، نه مو بی بی سی په هغه ماهیت پېژانده چې اوس یې پېژنو، نه مو سی ان ان پېژانده، نه د اهدافو د رسیدو لپاره د دوی له سیاسي روش سره اګاه وو، خو اوس چې موږ له دوی سره ډېره معامله کړې ده، یو له بل ښه سره پېژنو، دوی که موږ پېژني او یا نه پېژني، موږ دوی ښه پېژنو چې دا تبلیغات د رواني جنګ تبلیغات دي او د دې لپاره



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دي چي موږ ته دا راوښيي چي که چېرې موږ نه وو، نو تاسي برباد ياست، اوس په دې پوه يو اما د افغانستان خلک، دلته مي د افغانستان مطبوعاتو ته خطاب دی، د افغانستان تلويزيونو ته دی، د افغانستان رسنيو ته دی، د افغانستان راډيو گانو ته دی، متاسفانه هغه تبليغات چي په هغوی کې کيږي، زموږ د ځينو رسنيو له لارې هم کيږي، زموږ د نظر ورکوونکو لخوا هم تکراريږي.

پيام من به مطبوعات، رسانه ها و تلويزيون های افغانستان اينست که وظيفه ما به حيث مردم افغانستان که مثل مطبوعات کشورهای ديگر ، مطبوعات و رسانه های افغانستان در جائيکه معامله داخلی وطن ما، اجراات و فعاليت حکومت و يا عدم اجراات حکومت است به تمام معنی و با آزادی کامل ديد انتقادی داشته باشند و اين به خير کشور است که در عقب حکومت هميشه چراغی باشد تا از تخطی غلطی پرهيز کند.

هر انتقاديکه مطبوعات ما ميکند به آزادی کامل بکند و در همين ده سال کرده است، از رئيس جمهور تا هر مرجع ديگر حکومتی و دولتی افغانستان شما حق انتقاد داريد و بکنيد. انتقاد بجا کنيد. حتی انتقاد نادرست و دروغ هم باشد، خير است. ولی جائيکه منافع ملی افغانستان است، يعنی انتقاد بر حکومت افغانستان نبايد که تخريش اعتماد به نفس ملت افغانستان باشد، نبايد که تخريش اميدواری مردم افغانستان به طرف آينده باشد. پس با تفکيک عمل کنيم. سوال که مطبوعات ما ميگويد که فردا اگر نيروهای خارجی در افغانستان نبود سرمايه گذاری از افغانستان فرار می کند. اين خدمت به وطن ما نيست. اگر عسکر خارجی در افغانستان نبود افغانها توان نگهداری وطن خود را ندارند، اين تبليغ عليه مردم افغانستان است. بدون شک که وظيفه مطبوعات کشور اينست که مردم افغانستان، تاريخ کشور، شجاعت مردم و نگهداری اين وطن را که مردم افغانستان از هزاران سال به اينطرف کرده اند، تبليغ کنند.

فعلاً تبليغات بر عکس است. که اگر خارجی نباشد، ما هيچ هستيم. آيا اين حقيقت است که ما هيچ هستيم؟ آيا ما به حيث يک ملت در سال ۲۰۰۲ که امريکا و ناتو آمد پيدا شديم يا پيش از آن هم بوديم؟ سوال ما از شما است. ما پيش از اين يک ملت بودم يا نبوديم؟ ملت هستيم که پاکستان راکت های خود را بنامش گذاشته، راکت پاکستان غوری نام دارد، غور در کجاست برادران و خواهران عزيز، غور در امريکاست يا در انگلستان يا در روسيه، هند و يا در پاکستان. غور در افغانستان است، مرکز خاک ماست. يا نام راکت خود را ابدالی مانده است. ابدالی نزديک تر است و سه صد سال نمی شود از حکومت احمد شاه بابا، پس اگر ما با آمدن نيروهای خارجی در افغانستان ده سال پيش پيدا شديم و تازه يک ملت شديم درست که اينها نباشند، ما شايد کار خود را کرده نتوانيم، ولی اگر يک ملت چندين هزار ساله هستيم و تاريخ داريم و شجاعت نشان داديم و ابرقدرت ها را در اينجا به زانو درآورده ايم، مثل ديگر مملکت ها نيستيم که اشغال شده باشيم ، اشغال را قبول کرده باشيم و پس از آن آزاد شده باشيم. در خاک ما ابر قدرت ها دفن هستند، مطبوعات جهان ما را دفن گاه ابرقدرت ها ميگويند و شما مطبوعات کشور ميگوييد که اگر خارجی ها رفت ما برباد هستيم، اگر خارجی ها رفت ما نيستيم. کمی به گذشته خود و به غرور و عزت بزرگی ملت افغانستان برگرديم و برعکس تبليغ کنيد بر اينکه افغانستان نه تنها اينکه بعد از ۲۰۱۴ درست باقی ميماند، بلکه خوب باقی ميماند.

من عقيده راسخ دارم که اين مملکت با عزت، در وحدت ملی و به طرف ترقی پيش ميرود و تعداد سرمايه دار که به همراه امريکا و غرب آمده اند آنها پس ميروند، بروند و آن تعداد تجار و سرمايه دار که از خاک خود ما هستند در همين جا کلان شدند، آنها می مانند. زندگی ما پيش ميرود.

در هر ولايت ما که از نيروهای خارجی به نيروهای خود ما انتقال قدرت صورت گرفته است، آنجا امنيت و زندگی بهتر شده است. برادران ما که اينجا نشسته اند، شاهد هستند که خارجی ها پيش من ميايند و ميگويند رئيس صاحب جمهور شما بعد از اينکه دوره رياست جمهوری تان تکميل شد، انتخابات برگزار گرديد و رئيس جمهور جديد تعيين شد، آروز داريد به کجا زندگی کنيد. اگر شما خواسته باشيد ما ميتوانيم برای شما در وطن خود جای بدهيم و ميتوانيم شما را به کدام اداره بزرگ بين المللی بحيث رئيس کوشش کنيم که انتخاب شويد يا اين يا آن، نخير جواب من اين بوده که من در همين خاک خود ميباشم. در کابل


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

میباشم ، خانه میگیرم، در همین جاه زندگی میکنم، اولادم در همین جا کلان میشود و درس میخواند و ان شاالله تعالی خدمت وطن خود را میکند. تمام دنیا را که برای ما بدهند ما یک ذره زندگی و خاک خود را به آن تبدیل نمی کنیم. امروز این کنفرانس را به طور خاص به همین خاطر گرفتیم.

زمانی بود که هر روز بالای پولیس و عسکر ما حمله صورت می گرفت، به دفاع از خاک خود شهادت میداد و مطبوعات کشور ما تبلیغ میکردند که پولیس فاسد، نمی دانم عسکر چه و عسکر چه ، در دیگر دنیا یک عسکر شان شهید میشود رئیس جمهور پیش راهش می برآید که دفنش کنند.

از مطبوعات عزیز کشور و آن تعداد افرادیکه در تلویزیون ها می نشینند و صحبت میکنند، زمانیکه منفعت ملی کشور مطرح میشود که منفعت ملی، ثبات، وحدت ملی و رشد اقتصادی مملکت است، قوت اقتصادی و دموکراسی مملکت است از آن نه تنها که دفاع کنید بلکه برای پیشبرد و محکم کردنش راست و دروغ تبلیغ کرده بروید.

مسئله دوم انتخابات آینده افغانستان است. انتخابات ریاست جمهوری افغانستان، در این مورد و شخص خودم به حیث رئیس جمهور امروز با تمام یقین و پابندی به قانون اساسی افغانستان و احترام به دموکراسی و رای آزاد ملت افغانستان به طرف انتخابات ۲۰۱۴ ریاست جمهور و بعدش انتخابات پارلمانی پیش میرویم. انتخابات افغانستان به موقع اش و وقتیکه قانون اساسی افغانستان حکم کرده، برگزار میشود. هیچ حالتی ،هیچ نا امنی و تبلیغات خارجی مانع برگزاری انتخابات افغانستان نمی شود. چون هر انتخابات حتی اگر ناقص هم باشد بهتر از یک حکومت نا مشروع است.

در ۲۰۱۴ میلادی زمانیکه دوره قانونی ریاست جمهوری من و معیاد رای که مردم به من داده اند، ختم میشود در آنوقت حامدکرزی رئیس جمهور مشروع افغانستان نمی باشد، حتی بعد از یک روز مشروعیت من از بین میرود و انتخابات حتی اگر ناقص هم باشد، آمدن رئیس جمهور جدید به خیر این خاک است و بخیر مشروعیت نظام افغانستان است.

لهذا انتخابات صد فیصد و به وقتش میشود. یکماه یا دو ماه کمیسیون انتخابات وقت بگیرد، پروا ندارد ولی انتخابات حتماً میشود و شدنی است و رئیس جمهور نو میاید و شما پشت کاندید خود بگردید هر کسی را که خوش دارید، پیش شان کنید که مردم افغانستان برای شان رای بدهند.

ولی ما انتخاباتی به مردم افغانستان میخواهیم، در این مورد هم با بزرگ های خارجی صحبت کردیم بسیار با وضاحت که مثل انتخابات ریاست جمهوری و انتخابات بعدی پارلمانی ما در انتخابات ما مداخله نکنند. باید در انتخابات ریاست جمهور ۲۰۰۹ برای شان ثابت شده باشد که اینها نمی توانند از راه مداخله پلان خود را بالای مردم افغانستان تطبیق کنند.

پس انتخابات آزاد میخواهیم که نه حکومت افغانستان در آن مداخله کند و نه بگذارد که خارجی ها در آن مداخله کنند و ملت افغانستان رای آزاد و مستقل و رای دلخواه خود را به کسیکه دوست دارد، بدهد. انتخابات که ما توان پرداخت قیمت آنرا داشته باشیم، انتخابات که خارجی ها برای ما بنا کردند در همین ده سال انتخاباتی بود که کشورهای مثل هند توان پرداخت آنرا ندارد. انتخابات هند ۱۲۰۰ میلیون نفر از انتخابات افغانستان ۲۸ الی ۳۰ میلیون نفر ارزانتر بود. انتخابات ما تنها برای ثبت نام رای دهنده گان، ۵۰۰ میلیون دالر هزینه برداشته است، این ظلم است. پس ما میخواهیم انتخابات خود را به حد توان زندگی و اقتصاد خود ما برپا کنیم، درست برپا کنیم نه از انتخابات دیگران منحیث یک وسیله مداخله کار بگیرند و نه از انتخابات ما ادارات بین المللی برای پول دار شدن و استفاده های خود کار بگیرند. با تمام وضاحت هم در مورد مصارفات انتخابات و هم در مورد چگونگی انتخابات و در مورد دایر شدن انتخابات افغانستان، واضح است کمیسیون مستقل انتخابات وظیفه دارد که انتخابات را به وقتش دایر کند و با تمام آزادی و استقلال و اگر افغانستان از طریق کمیسیون مورد اعتماد مردم افغانستان و مستقل از هر گونه مداخلات چه حکومتی ، چه گروهی و چه قومی و فردی، آزاد بود و انتخابات را به پیش برد، این مملکت ما مانند هند در دموکراسی راه خود را پیدا میکند و انشاالله به طرف آینده خوشبخت و صاحب حکومت پیش میرویم، از این مطمین باشید.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولۍ

من فکر میکنم که همین دو مساله مهم بود پیش من امروز اگر چه مسایل دیگر نیز است ولی من مطمین هستم که در لابلای سوال و جواب به آن مسایل بر میخوریم.

**سوال خبرنگار تلویزیون آریانا:** مسئله حمله بر پایگاه های امریکا در ولایت هلمند به شکل یک معما باقی ماند، نتایج تحقیقات که از جانب حکومت افغانستان و نیروهای بین المللی در این مورد صورت گرفته از چه قرار است؟

**حامدکرزی:** دولت افغانستان در این مورد تحقیقات مستقل خود را ندارد. چون این پایگاه مختص پایگاه انگلیس و امریکا بوده و در آنجا هیچ حضور نیروهای افغانی نیست و در یک دشت قرار دارند پس از درون پایگاه که چه می گذرد، دولت افغانستان خبر ندارد. ولی از اطراف پایگاه محیط خود ما طبیعی است که ما در جریان هستیم و آگاه هستیم ، اهمیت سوال تان در یکجا دیگر است، اهمیت سوال تان در اینست که آیا این حمله یک حمله تروریستی بوده که از بیرون ترتیب شده بوده و یا حمله بوده که از درون ایجاد شده و ترتیب شده، موقف افغانستان از روز اول و حمله بر این پایگاه موقف ما را ثابت کرد ، دوباره اثبات کرد که جنگ علیه تروریزم در دهات ، قصبات و خانه های مردم افغانستان نیست، نباید باشد که دهات و خانه های مردم افغانستان نه تروریست را تربیه کرده و نه لانه اش بودند و امریکا و ناتو باید به جنگ با تروریزم به جای بروند که از آنجا تروریزم نشات میکند. امریکا حتی دیروز هم یکی از کلان های شان صحبت میکرد در یکی از ادارات تحلیلی شان در امریکا می گفتند که تروریزم در همسایگی افغانستان تربیه میشود و لانه های تروریزم در بیرون از خاک افغانستان است. ولی امریکا حاضر نیست که به لانه های تروریزم بروند و اقدام کند، پس یک دوگانگی وجود دارد. پس سخن چیزی دیگریست و عمل چیز دیگر، به اصطلاح دزد را میگوید دزدی کن صاحب خانه را میگوید خانه خود را نگهدار، به همین دلیل ما سال ها پیش به این نتیجه رسیدیم که جنگ علیه تروریزم در حالت که اینها پیش میبرند از دید افغانستان به کامیابی نمی رسند. برعکس مقامات ناتو و غرب اصلاً جنگ که اینها در اینجا بنا کردند، جنگ علیه تروریزم نمی دانند. جنگ علیه اغتشاش می دانند و موقف ما واضح بر اینست که اگر این جنگ، جنگ علیه اغتشاش است پس این یک مسئله داخلی افغانستان است تو دیگر اینجا چی کار داری ، بگذار ما و مخالف ما را که یا جنگ کنیم یا کنار بیایم ، تو بین افغان چه کار داری که با عسکر چندین هزاری ات در بین افغانها در جنگ هستی، اگر تروریزم است، در اینجا نیست، ریشه اش جای دیگر است، خودش و تمویل اش جای دیگر است، آنجا بروید. یک اختلاف نظر از اول بین ما و اینها بوده و این اختلاف نظر هنوز هم ادامه دارد، این اختلاف نظر حل نشده و مشکلات را که در افغانستان و در جنگ علیه تروریزم داریم زاده همین دید یکطرف و عمل طرف دیگر است و از این حمله که بر پایگاه امریکایی ها شد اینها بدون شک به یک نتیجه اگر قبلاً نرسیده اند حالا رسیده اند. و باز هم اگر انکار کنند و کاری را که باید بکنند، نکنند، طبیعی است که ملت افغانستان حاضر به قربانی بیشتر در این راه نیستند ، بسیار قربانی دادیم و در سخنرانی من در ملل متحد بسیار واضح به ملل متحد گفته شد که افغانستان در جنگ علیه تروریزم بزرگترین قربانی را متحمل شده است و این قربانی باید عزت شود و فعالیت بر ضد تروریزم به ترتیبی شود که آنرا به کامیابی برساند که امروز متاسفانه به آن ترتیب نیست.

**د امریکا غږ خبریاله، بهارت صابر:** تاسو په خپلو خبرو کې وویل چې له پاکستان سره به ستراتیژیک تړون هله لاسلیک کیږي، چې هغه هیواد افغانستان ته د تروریزم را لیږل بند کړي، خو په دې تېرو لسو کلونو کې هره ورانی تقریباً د پاکستان له لاسه کیږي؛ نو پوښتنه داده چې تاسو به ددې کار لپاره انتظار کوئ او که انتظار کوئ، څو کلونه نور، او که انتظار نه کوئ تړون لاسلیکوئ، دا به ستاسو له نظام سره او ملت ترمنځ فاصله نوره هم زیاته نه کړي؟

ولسمشر کرزی: دا تړون به لکه څنګه چې ما وویل هغه وخت امضا کیږي چې دا شرایط پوره شوي وي، چې تروریزم بند شي، د افراطیت تربیت او لیږدونه یې افغانستان ته بنده شي، د افغانستان پر خلاف فعالیت بند شي، د افغانستان تخریب بند شي او حقیقي دوستي شروع شي، اوس خو مونږ د دوستۍ خواته کوښښ کوو، خو تر اوسه پورې شوې نده، نو دا به هلته کیږي چې زمونږ دا شرایط پوره شي، تروریزم بند وي، افراطیت بند وي، افغانستان کې سوله راغلې وي او د دواړو هیوادونو تر منځ د مستقلو روابطو په اساس احترام موجود وي، او چې مونږ مطمئن شو چې افغانستان ته تروریست، جنګ، مرمۍ او بم نه راځي، هلته بیا یوه بله اوږده سلسله په کار ده، چې د هغې سلسلې له لارې دې توافق ته ورسیږو. اوس په دې باندې خبرې ډېر وختي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کار دی، دا صرف یوه آرزو وه او دې آرزو ته د رسېدو په لاره کې ډېر پاټکونه پراته دي او دا پاټکونه مونږ ندي اېښي، مونږ له خپلو همسایه او ورور هیواد څخه غواړو چې دا پاټکونه لرې کړي، تر څو دا دوه ملتونه هغې آرزو ته ورسیږي، چې یو نېږدې، خوږ او منفعت آمیزه ژوند د دواړو لپاره وي.

**د آزادئ راډیو خبریال، اسدالله لودین:** تاسو مخکې له امریکا سره د امنیتي سند موضوع یاده کړه، هیلري کلنټن د امنیتي سند په محتوا کې د دایمي اډو موضوع څومره جدي ونیوله، او دا تړون به کله امضا کیږي؟

**جمهور رئیس حامد کرزی::** مونږ خو له دوی سره په ستراتیژیک سند کې، چې شپږ میاشتې مخکې امضا شو دا پیشبیني کړې وه چې ددې سند د تطبیق او اجرا کولو د مراحلو د تېریدو لپاره دېته لرو ضرورت چې یو امنیتي سند امضا کړو، امنیتي سند په دې ما نا چې دلته به د دوی د قواوو د قانون مندئ خبره کیږي، چې آیا د دوی قواوې به په افغانستان کې د افغانستان تر قوانینو لاندې وي او یا به د افغانستان له قوانینو څخه آزادي ولري او تر خپلو قوانینو لاندې به کار کوي. چې دا زمونږ او ددوی تر منځ یوه ډېره مهمه مسأله ده، د مذاکرې لمړني مراحل شروع شوي دي.

بل دا چې دوی دلته د لسو کلونو لپاره پایګاوې غواړي چې ددې پایګاوو تعداد به څو وي او دا به د افغانستان په کومو ځایونو کې وي او د عسکرو شمېر به څومره وي او د پایګاه رابطه به له پایګاه څخه بهر څه ډول وي، د افغانستان واکمني به په دې پایګاوو کې څه وي، آیا هلته به د افغانستان بیرغ هم ځړیږي؟ آیا دا پایګاوې به په کرایه ورکوو او که به بله معامله وي؟ ډېرې داسې تفصیلي خبرې نورې شته چې د هغه په اساس به دا تړون امضا کیږي او تر ټولو مهمه خبره د امریکې د قواوو د قانومندئ خبره ده او دا خبره د افغانستان ملت ته په دې مهمه ده چې مونږ د امریکا او له نورو هیوادونو سره ستراتیژیکه همکاري په دې امید پیل کړې ده، چې افغانستان به امن وي او دا همکاري به افغانستان ته امن راولي او دا همکاري به افغانستان ته هغه څه راوړي چې په هغه کې د افغانستان امن راشي او د تروریزم او د هغوی د منابعو پر خلاف حقیقي مجادله وشي، خو د افغانستان خلک تر اوسه دې آرزو ته ندي رسیدلي، نو که امریکا غواړي چې له افغانستان سره ستراتیژیک قرارداد ولري؛ امریکا باید افغانستان ته خپله ژمنه عملي کړي، چې هغه د افغانستان د خلکو لپاره امن، ثبات او د خلکو ورورولي ده، چې دا یوازې له مونږ سره د دوستئ له لارې کیږي، د رواني جنګ له لارې دا کار نه کیږي او موږ به هغه وخت موافقې سره کوو چې د افغانستان خلکو منلې وي چې افغانستان د امن خاوند دی او لا هم د امن خاوند کیږي او د افغانستان منفعتونه په نظر کې نیول شوي او د افغانستان راتلونکې او ښېګڼه په نظر کې نیول شوې ده، نو دا چې دا قرار داد به افغانستان ته هغه څه راولي د کوم څه چې د افغانستان خلک آرزو لري، نو که دا کار وشي؛ بیا زه هم د افغانستان ملت ته درېږم او وایم چې ورونو، خویندو دا زمونږ په ګټه ده راځئ چې ورسره امضا یې کړو او که چېرې دا کار ونه شو؛ زه د افغانستان ملت ته ددې قرارداد هېڅ ډول استدلال نشم ورکولای.

**د ژوندون تلویزیون خبریال، مجیب لحاظ:** ښاغلی ولسمشر! تاسو په بهرنیو سفرونو کې او له بهرنیو هیوادونو سره د ستراتیژیکو تړونونو په لاسلیکولو کې بریالي یاست، خو د هیواد په د ننه کې ستا سو پالیسي تر ډېره ناکامه ارزول کیږي، جګړه لا شته ده، په حکومت کې فساد شته دی او همدارنګه ولسي جرګې ته مو وعده ورکړې وه چې وروسته له دې به مصلحت نه کوئ، بلکې د قانونمندئ په لور به ګام اخلئ، خو لا هم مصلحت روان دی، تر کومې به دا وضعیت روان وي، له دې وروسته به هم مصلحت په پام کې نیسئ او که نه؟

**جمهور رئیس حامد کرزی:** د قانون په لور همېشه روان یو او قانون به هېڅ وخت نه پرېږدو، دا د هر حکومت دنده ده چې قانون پلی کړي او عمل پرې وکړي، خو قانون په هر هیواد کې په ماحول کې پلی کیږي، یو بستر ورته لري او په هغه بستر او تهداب کې تطبیق کیږي.

لس کاله مخکې چې موږ دا ژوند پیل کړ، ستاسو به په یاد وي، دلته پنځه ډوله افغانی چلیدلې، ټوپکوالو او ډلو خپلې پیسې چلولې او خارجي هیوادونو په اروپا کې د هر یوه لپاره پیسې چاپولې او ورکولې یې، هیواد واحد پولیس، واحده عسکري قوه، اداره، اساسي قانون نه در لودل، معارف نه و، لارې نه وې، د افغانستان له یو ځای څخه بل ځای ته حتی له یوه کلي څخه بل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

كلي ته تللای نه شوای، دا مو ټول را غونډ کړل، هیواد نن ورځ د ملي اردو او ملي پولیسو خاوند دی او د افغانستان په ګوټ، ګوټ کي یو بیرغ ځړیږي، په ټول هیواد کي افغانی چلیږي، قانون تر هغه ځایه چي د حکومت توان دی تطبیقیږي، اداره ورځ په ورځ ښه کیږي، په زرهاوو ځوانان دې په خارج کي سبق لولي، لس میلیون ډالره پیسي ورته له خپل بیت المال څخه محیا دي چي خپل درس پرې ولولي، دا د ځیني سیاسي اقداماتو له لارې مونږ ته ممکنه شوه.

مصلحت، په هغه ځای کي چي لږ ګټه او لوی تاوان سره وسنجول شي؛ کومه خوا انتخابوې؟ او یا په هغه ځای کي چي زیاته ګټه او لږ تاوان سره وسنجوو؛ کومه خوا انتخابوې؟ دا د مصلحت سوال دی، افغانستان نن د ټولو افغانانو کور دی، پرون له ما سره په یوه مجلس کي یو طرف ته د اسلامي نظریاتو خاوندان مجاهدین ناست وو او بل طرف ته خلق او پرچم را سره ناست وو، نو دې ته څه وایې؟ د قانون پلي کول وایې او که مصلحت وایې؟ او آیا دا مصلحت خراب دی او که ښه دی؟

یا په بله مانا که په دې هیواد کي هر کار د زور او دولتي اقداماتو له لارې وکړو او که د جوړجاړي او راټولولو له لارې یې وکړو؟

پرون ماته د تعلیم او تربیې له پوهنتون څخه محصلین را غلي وو او اعتراض یې درلوده چي دا پوهنتون مو ولې د استاد شهید په نوم کړی دی؟ ما دری ساعته ورسره تېر کړل، ۲۰ کسان یولس بجې راغلي وو او دری ساعته مې په سړه سینه او په استدلال سره د دوی خبرې واوریدې، ډېر تکړه ځوانان پکي وو، د ټول افغانستان ځوانان وو، د غور، بغلان، غزنی، وردګو او نورو ولایتونو ځوانان او نجوني پکي وې، آیا د یو هیواد ولسمشر ته لازمه ده چي خپل دری ساعته وخت په داسي سختو شرایطو کي له ځوانانو سره په یوه داسي مسأله کي چي هغه بل ځای هم کېدای شي، د لوړو زده کړو وزیر یې هم حل کولای شي، د پوهنتون رییس یې هم حل کولای شي او نورې مراجع ددې لپاره شته چي دا حل کړي، تېر کړي؟ په هغو هیوادونو کي چي ژوند عادي شوی دی ابداً دا کار نه کیږي، هیڅ وخت د امریکا ولسمشر خپل دری ساعته په داسي مسأله کي نه تیروي، هیڅ وخت د امریکي یا هند او یا د روس ولسمشر هره ورځ غرمه پر ډوډۍ له خلکو سره ناست نه دی، خو زمونږ حالات داسي ندي، محلصت مانا هغه څه چي د وطن پکي خیر وي دا شعار مطبوعاتو زده کړی دی چي مصلحت او فکر نه وربانډې کوئ چي څه مانا؟ مصلحت مانا هغه کار چي خیر پکي وي، نو هغه کار چي د افغانستان خیر پکي وي؛ هغه به هرو مرو مصلحت کوم، تر ولسمشرۍ وروسته به یې هم کوم او هغه کار چي د قانون د لارې او انضباط د لارې او نورو اجراآتو باندې وشي هغه به هم کوم، نو دې ته به هم ادامه ورکوم او هغه ته به هم ادامه ورکوم، تر څو چي تاسو تر انتخاباتو پورې ورسوم، کله چي انتخاباتو ته ورسیدئ، نو انتخابات به وکړئ او نوی رئیس جمهور به وټاکئ او خدای(ج) دې وکړي چي نوی رییس جمهور هم داسي معامله وکړي لکه لس کاله چي ما وکوله او لس کاله وروسته بیا دا هیواد یو څه توان پیداکوي چي د قانونمندۍ په اساس، د ښهرمندۍ پر اساس دا مملکت وچلیږي، چي قانون په ټولو پلی وي، نن دا قانون په ټولو ندی پلی، او که یې پر ټولو عملي کړي؛ ځیني داسي افراد شته چي اوس هم زورګویي کوي او اوس هم ظلم کوي هم له دې خاورې او له حکومت څخه لویه ګټه اخلي او هم یې په تخریب اخته دی، اقدام پرې اسانه دی، کیدای شي اما د هغه اقدام عواقب به دې خاورې ته څه وي؟ دلته بیا د مصلحت سوال دی چي ورته راځو.

**سوال-** شکیلا ابرهیم خیل هستم از تلویزیون طلوع، سوال ما معلوم نیست ما مطلق با مردم افغانستان هستم، هر چیزیکه به منافع ملی باشد به او سخت احترام داریم سوال ما اینست که از یک طرف راکت پرانی پاکستان، شما در جریان هستید که این نقض منافع ملی افغانستان است که به مرز های افغانستان تجاوز میکنند حتی به مردم هشدار داد اند که خانه های خود را ترک بگویند. شما منحیث چشم امید مردم، در گام نخست چه اقدامی در برابر این تجاوز آشکار و در مجمع عمومی سازمان ملل متحد از این یاد کردند و این را پیشنهاد کردند، چه اقدامات را بعد از این روی دست دارند یک موضوع که شما اشاره کردید که از سوی کارشناس ها درست است اما نگرانی عمده دیگر را اراکین بلند پایه حکومت در بین مردم انداخته، خود شان در اینجا و خانواده شان در بیرون از افغانستان هستند و این نگرانی را انداخته به شما خوب بهتر معلوم است که تابعیت دوگانه دارند. موضوع دوم روند صلح است اکثراً دیده شده که کسانی که به صلح پیوسته در جا های که زیر کنترول دولت است، یک دختر و



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

خانم را به دره زدند، شما در جریان هستید محکمه صحرایی ادامه دارد، در ولایت غزنی دختر که هژده سال ندارد به دره زده شده حکومت تا به حال خاموش بوده در این رابطه نظر تان را میخواستیم سپاس گذارم.

**حامد کرزی:** در مورد حملات راکتی پاکستان، تمامی اقدامات لازم انجام دادیم البته به تفکیک دیدگاه های ما، راکت های که به کنر می آید، متاسفانه حقیقت است و دولت افغانستان این مسئله را با پاکستان جدی در میان گذاشته و این مسئله را به امریکا جدی در میان گذاشتیم. امریکا در این مورد برای ما واضح گفتند که حاضر به دفاع نیستند و حتی مقامات نظامی شان نپذیرفتند تا به این تعداد که ما میگویم می آید در مجالس که همرای ما داشتند می گفتند که راپور های مطبوعاتی و ادارات امنیتی تان اغراق آمیز است و درست نیست ولی راپور که ما از ساحه میگریم به همان چیزیکه ادارات امنیتی ما از محل می آورد از راه دیپلوماتیک اقدامات ما همرای پاکستان شده است. وزیر خارجه در مجمع عمومی ملل متحد یاد کرد، من خودم در مجمع عمومی ملل متحد یاد کردم و در اعلامیه مشترک ما و امریکا که دیروز نشر شد این مسئله دوباره از طرف دولت افغانستان یاد آوری گردید. این اقدامات را کردیم و ادامه میدهیم و آنهائیکه متضرر میشوند، دولت افغانستان همرایش کمک می نماید اما اگر منظور شما اقدامات متقابل عسکری و اقدام متقابل نظامی باشد او اقدام را نه کردیم چرا که پاکستان از آن طرف خط دیورند در این طرف خط دیورند دهات را میزند ما هیچگاهی هم این کار را نخواهیم کرد که از این طرف خط دیورند به او طرف خط دیورند دهات و خانه مردم را بزنیم آن خانه ها و دهات را قوم و مردم خود می دانیم، دلیل دوم آنجا مردم ملکی و عام است، افغانستان جنگ با قوا میکند، با مردم جنگ نمی کند. اگر زمانش رسید که جنگ قوه به قوه کند در آن صورت دولت افغانستان به تمامی معنی به حکم سریع رئیس جمهور افغانستان، این اقدام را خواهد کرد. فعلاً در آن حالت نرسیده ایم و نمی خواهیم که برسیم، خدا نکند که به او گپ برسد که ما و پاکستان در جنگ باشیم و آرزو ما از پاکستان این است که این را متوجه باشد که افغانستان را به این نکشاند. پس به جواب حملات توپ خانه ای پاکستان به خاک ما، مردم ملکی و خانه ملکی را در آنطرف دیورند، بمبارد نخواهیم کرد. آنها را از خود میدانیم آنها مردم عام هستند. در مورد گوشته و لعلپور هیات ما روزی که شنیدیم وزیر داخله و دفاع رفتند، ساحه را دیدند معلومات خود را جمع کردیم، خوشبختانه حالت به او شدت که در مطبوعات آمده بود، نبود ما به مردم نشستیم، مردم روحیه بسیار قوی داشتند، روحیه دفاع از کشور خود داشتند و کمک ها از طرف ما میرسد قطعات ما در آنجا حاضر هستند از او ناحیه. پس هر دو وزیر آمده اند و به ما اطمینان دادند.

سوال دوم تان در مورد ظلم که در بعضی از دهات و قریه های افغانستان، بدون شک که میشود و جای که ما خبر شدیم، اقدام کردیم و اقدام میکنم و این حق مردم افغانستان است که از دولت خود، نو جوانان و زن های افغانستان بخصوص به تمامی معنی دفاع نماییم و این کار را کردیم و ادامه میدهیم.

**سوال:** مقامات عالی رتبه فامیل های خود را به خارج برده اند و در بین مردم یک نوع هراس را انداخته اند که گویا بعد از ۲۰۱۴ وضعیت خراب میشود؟

**حامدکرزی:** آنها همین هراس را می اندازند یا فامیل های خود را نیاورده اند. دو گپ است، یکی اینست که در اینجا کار میکنند و فامیل های خود را نمی آورند، بسیار بد کار میکنند. بسیاری شانرا ما گفتیم که برادران فامیل تا ن را بیاورید، آنهایکه نیست فامیل شان اینجا بشنوند که تنها رئیس جمهور برای شان نمی گوید مطبوعات هم همین را میگوید، بیاورند فامیل های خود را به افغانستان به خیر خود شان هم است. اینجا هوا هم بهتر است و زندگی هم بهتر است . ولی این با آن بسیار فرق دارد، تبلیغات است علیه افغانستان این که این مملکت به ثبات نمی رود و اینکه فامیل اش در بیرون است، بسیار فرق دارد. اگر هر دو کار را میکند که هم فامیل را نمی آورد و هم تبلیغات میکند ، شما نامش را برای من بگیرد من فوراً برطرفش میکنم. من خبر ندارم که کی این کار را میکند، شما به من خبر بدهید، باقی اش کار من است ، افشاگری از شما برطرفی و مجازات از من.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولــئ

**سوال خبرنگار رویترز:** بعضی خبر های تائید ناشده در مطبوعات که گویا شما در نظر دارید که برخی از والی ها را برطرف کنید یا به جای دیگر بگمارید که در آن والی بلخ و ننگرهار هم شامل است تا کجا این حقیقت دارد و سوال دیگرم در مورد زاخیلوال است، اتهامات که متوجه وی است آیا حقیقت دارد و یا خیر؟

**حامدکرزی:** سلسله تغیر و تبدیل حکومتی یک سلسله عادی و کار عادی همه حکومت هاست. مامورین دولت افغانستان یک روز در یک ولایت میباشند، روزی به ولایت دیگری میباشند و فعلاً ما در مورد تغییر والی صاحب مزارشریف و ننگرهار هیچ تصمیم نداریم و نه در این مورد بحث شده است. ولی تغییرات در اداره افغانستان مثل دیگر جوامع کار عادی و روزمره است.

در مورد آقای زاخیلوال قضیه رفته به څارنوالی افغانستان و دیروز همراه با څارنوال صاحب صحبت داشتم، آنها انتظار دارند که از ریاست مستقل مبارزه علیه فساد، اسنادی که آنها دارند به څارنوالی فرستاده شود و خود آقای زاخیلوال هم چیزی اسناد که داشته چیزکه آنها علیه خود اقدام سیاسی میدانند به اداره ]څارنوالی داده و ملاقات دیروزم در همین مورد بود همراه څارنوال صاحب که آنها در جریان کار هستند و پروسه در حال پیشرفت است.

**سوال خبرنگار تلویزیون تمدن:** طوریکه به همکار من گفتید، وقتی که امریکا قبول نمی کند که این چنین واقعیت داشته باشد، تحقیقات دولت افغانستان چه میشود و این نقض امضای پیمان نیست که جانب امریکا کرده است؟

**حامدکرزی:** تحقیقات ما نشان میدهد که توپ ها از طرف پاکستان میاید و درین جای شکی نیست. مردم محل، وزارت دفاع، وزارت داخله گزارش های موثق دارند، ولی امریکا این حملات را به اساس قراردادی که داریم نه به تعدادی که میشود درست میداند و نه هم قابل این میداند که پس به مقابل شان جواب داده شود.

به همین دلیل ما تقریباً از دو ما بدینسو یک سلسله ای وسیع را با جنرال های وزارت دفاع و وزارت داخله افغانستان شروع کردیم که چطور افغانستان از لحاظ تجهیزات خود را به هدفی برساند که آرزویش است، آن چیست؟ ما از امریکا خواستیم که قوای هوایی مارا تجهیز کند، به طیارات جنگی، ترانسپورتی و کشفی که امریکا تا به حال جواب نداده، بحث ما هفته آینده هم دوام میکند که آیا اگر امریکا و ناتو به ما این تجهیزات را نداد، پس آیا افغانستان به انتظار میشند و یا اقدام به خریداری از هند یا چین یا روسیه و یا جای های دیگر میکند. این سلسله بحث های است که ما از دیر زمانی به این طرف آغاز کردیم و نمی خواستیم که حالا سر این موضوع بحث کنیم ولی بعدتر که به این بحث بر میگردیم، انشاالله وتعالی خدمت شما میایم و می گویم که افغانستان فیصله اش درین راستا چیست و به اغلب گمان که ما به طرف این میرویم که فیصله کنیم که اگر امریکا قادر به تجهیز درست ما نیست باید راه افغانستان را هم نگرید، ما باید کار خود را خود ما بکنیم و خریداری تجهیزات بدست خود ما شود.

تشکر، خوش و بخیر آمدید


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ